احسان الله آرینزی ۲۰۱۱-۰۶-۲۲

د ملکي (بیا ترکس) نږور ترافیك په خګپیګړو ونه واهه!

د هالند کوچنی اروپایي هېواد یوه ملکه لري چې (بیا ترکس) نومیږي.
دا د لویدیځې اروپا د بل هر پاچا په څېر د یوه کورنۍ اشرافیت نښه ده او ډېره شتمنه بلل کیږي. وایي چې د تېلو د Shell کمپنۍ ډېر اسهام په بیاترکس پورې اړه لري، د اروپا د اورګادي د سراسری شرکت ګدونواله ده او ډېر نقد او جنس لري؛ خو د همدې ملکي په کمکي هېواد کې قانون واکمن دی، مشر او کشر د قانون درناوی ساتي، څوك پولیس په سترګو نه ویني؛ خو د خلکو د ځان، مال، کور او شتمنیو بشپړ امنیت تامین دی، د حکومتونو چارواکي د خلکو په خدمت لګیا دي او خلك په ډېره ډاډمنه فضا کې خورا ارامه ژوند تېروي.
ملکه بیاترکس یوه نږور او یوه لمسی لري. دا لمسی اوس پېنځه کلنه ده. څلور کاله مخکی د ملکې نږور داسې یوه روځ ترافیکو ودروله چې د موټر د اسنادو د نوی کېدنګ په وروستنی نېټه یې دوه میاشتی تېرې شوې وې.
ما ته یو افغان چې په هالند کې استوګن دی کیسه وکړه چې په دغه هېواد کې د ۹۹٪ موټرو اسناد سم، قانونی او نوي دي؛ خو یو په سلو کې داسې کسان هم شته چې له افغانستان، ترکیې، مراکش، ایران یا سومالي څخه راغلي، قانون نه مراعاتوي او یا یو نیم هالندی په دې ناروغی اخته شوی وي. په هالند کې قانون دی چې ترافیك په کال کې یو یا دوه ځلې په دوه - دریو سترو لارو ودریږي، د ټلویزیونونو کمرې نژدې ودروي او د موټرو د اسنادو په کتلو پیل وکړي. دوی په دې عملیاتو کې هغه موټر دروي چې اسناد یې زاړه شوي وي، دریور په اسنادو کې ستونزه وي او یا موټر تخنیکی نیمګړتیاوي ولري.
د هالند ترافیك په دې دوه ورځنیو یا دری ورځنیو عملیاتو کې د هېواد ټول اووه - اته ملیونه موټران چك کوي او د نیګړتیاوو خاوندان ورکشاپونو، دفاترو او محاکمو ته وپیژني.
خیر په دغسی یوه روځ د ملکې (بیا ترکس) نږور د ترافیکو لاس ته ورغله. ما د دې جریان فلم د هالند په یوه خصوصی ټلویزیون باندې وکوت چې ډېر په زړه پوری و.
د ملکې نږور داسې وخت له ترافیکو سره مخامخ شوه چې یوه میاشت مخکې یې لور زیږلی وه. ملکه بیاترکس څو روځې مخکې د خپلې نوی ګلالی لمسی بانکی حساب ته ۲٦۰ ملیون ایرو لېږدولي و چې ژوند یې په راتلونکې کې ګرانتی ویزښکاره خبره ده چې ماشومه د خپلې نیا د (مخ دیدنی) سوغات په ارځښت نه پوهېده؛ خو مور یې په دې ښه پوهېده چې لور یې څومره شتمنه شوه او د څومره نیکمرغه ده!
په فلم کې د ملکې نږور ترافیکو ته په ډېر درناوی وویل چې د موټر کاغذونه مې ځکه له وخته تیېر دي چې زما د پلاربتوب نهمه میاشت وه، تکلیف مې درلود او بیا مې ماشوم وشو او د کاغذونو نوي کېدو ته وزګاره نه شوم. د ترافیکو افسر ورته وویل چې کېدای شي په دې دوه میاشتو کې دوه - دری زره هالندی ښځو ماشومان زیږولی وي؛ خو د موټرو اسناد یې سم دي او دا (پلمه) نه جوړوي.
په هر صورت د ملکې نږور خپله ملامتر ومنله او وې ویل چې چاره څه ده؟ اوس به څه کوو؟ ترافیك ورته وویل چې موږ ستا موټر له ځانه سره وړو، ته به سبا بل سبا ځې محکمې ته، هلته به د جرمانې په هکله پریکړه کیږي، کله دې چې جرمانه تحویل کړه او کاغذونه دې نوي کړل، د ترافیکو له پارکنګ څخه به خپل موټر بوزي!
د ملکې نږور لاړه، له خپل موټر څخه یې خپل ضروري شیان واخستل او کلی یې ترافیکو ته وسپارله. په هالند کې د عمومي چك په ورځو کې ترافیکو له ځانه سره یوه لاری بایسکلونه هم راوړي وي. دوی دا بایسکلونه هغه کسانو ته ورکوي چې موټر یې درول کیږي. د ملکې نږور هم په یوه بایسکل پښه واړوله او لاړه! نه یې په ترافیکو غالمغال وکړ، نه یې شور زوږ جوړ کړ، نه یې ترافیك په ځېپړو ووهل، نه یې خپل خاوند او ملکې بیاترکس ته ټلفونونه وکړل چې راشي او ما خلاصه کړئ. بس خپله ملامتي یې ومنله، په یوه عادي بایسکل سپره شوه او لاړه خپل کور ته. سبا - بل سبا به هغه هرو مرو تللی وي محکمې ته چې د خپل موټر د اسنادو د نوي کېدنګ جرمانه ورکړي او خپل اسناد نوي کړي.
په افغانستان کې ترافیك د زړو لاریو، ټکسي ګانو او د عامو خلکو موټر درولای شي، هغه نازولی چې د روان (چور) په برکت د شتو او مناصبو خاوندان شوي په داسې (ذړه) موټرو کې ګرځي چې وړاندې او وروسته یې وسله وال ساتونکی روان وي او ترافیك خو څه کوی چې داخله وزیر یې هم نه شي درولای!
د مخدره موادو قاچاق په همدې موټرو کې کیږي، د خلکو زامن په همداسی موټرو کې اختطاف کیږي، وسلې، مهمات او چاودیدونکی توکي په همدې تورو او فیشنی موټرو کې له یوه ځای څخه بل ته وړل کیږي، د شپې د نڅاوو او

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عياشئ له پاره ځواني نجوني په همدې موټرو کې ناستې وي او لنډه دا چې ترافيك دا موټر نه شي درولای او څوك يې له سپرليو څخه د موټر د اسنادو، د وسلو د جواز او يا د نورو غيرقانوني کارونو پوښتنه نه شي کولای!
که څوك په افغانستان کې د کوم دېر غټ چارواکی زوی ودروي او له هغه څخه د اسنادو پوښتنه وکړي، په ځواب که به د کلاشنکوف په مرميو سوری، سوری نه شي، په ځپېړو او سوکانو به هرو مرو ووهل شي! له نازولو حضراتو څخه د اسنادو پوښتنه د هغه جناب شخصيت، د هغه د محترم والد صيب نامه، د هغه جنګي تنظيم دبدبې او يوه - دوه درجنه ساتونکو ته سپکاوی دی او د داسې کس سزا وهل ټکول دي.
دلته دوه خبرې بايد هېرې نه شي. په هالند کې د ملکې د نږور موټر ترافيکو درولی و؛ خو په افغانستان کې لا نجونې او ښځې په داسې دريځ کې نه دي چې موټر وچلوي. دلته د نازولو زامنو خبره ده چې د تورو شيشو په يو لك ډالري موټرو کې ګرځي او د ترافيکو د وهلو (حق) لري. دوهمه خبره دا چې د هالند د ملکې نږور هم بې شماره پيسې لري، هم يې د خاوند مور د هېواد ملکه (پاچا) ده او سياسی ځواك لري؛ خو د هالند عادي ترافيك دا حق لري چې موټر يې ودروي او اسناد ترې وغواړي. دلته په افغانستان کې هيڅوك د غټانو د زامنو او کورنيو موټر نه شي درولای او هيڅوك يې د اسنادو پوښتنه نه شي کولای! دا کسان چې د (چور) په وخت کې يو ځای ته رسيدلې، ځانونه زر ځلې له قانونه لوړ بولي او تر هغو چې ژوندي دي او دا وضع همداسی روانه وي، نه به د قانون برلاسي ومني او نه به په هېواد کې د قانون له حاکميت سره مرسته وکړي؛ ځکه چې قانون اول همدوی نيسي او محکمې ته يې کاږي.
هالند د افغانستان د نيمروز ولايت په اندازه مساحت لري. هلته ملك وړوکی دی؛ خو د قانون واکمني ډېره پياوړی ده. افغانستان لوی هېواد دی؛ خو د (خدای) په زور چليږي او قانون پکې د بيکاره کاغذ حيثيت هم نه لري.
په افغانستان کې سلګونه او زرګونه ستونزې هغه وخت پای ته رسي چې ټول خلك او په تېره بيا غټان او غټې خيټې قانون ومني او په ځان او نورو يې تطبيق کړي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ